uasc health

Your sexual health matters.

NHS
Maidstone and Tunbridge Wells
NHS Trust

# جنسي روغتيا – سريزه

تاسي کولای شئ د امیندوارۍ
د مخنیوي او جنسي روغتیا په
اړه لا زیات معلومات زموږ د UASC
په لیف لیټ (معلوماتي پاڼه) کې وموئ




# جنسي روغتیا – سریزه

جنسي اړیکې یا سکس کېدای شي د یوې خصوصي او شخصي موضوع په توګه یاد شي او زموږ ځینې ښایي دا موضوع ډېره شرموونکې وبولي او ښایې په اړه یې خبرې کول ورته ډېره ستونزمنه ثمامه شي. خو بیا هم، دا زموږ د ټولو د ژوند یو طبیعي کار ده او کله چې موږ د جنسي اړیکو نیولو قانوني عمر ته رسیږو نو باید وکولای شو له یوه مثبت، خوشاله او روغتیایي جنسي اړیکو یا سکس څخه خوند واخلو – چې دا یو قانوني کار دی.

په بریتانیا کې، ستاسې په څیر ځوانان، د جنسي اړیکو په اړه له خپلو کورنیو او همداشان له ښوونځي څخه زده کړه تر لاسه کوي. هغوۍ د جنسي اړیکو یا سکس د مخنیوي (STIs) له لارې د لېږدیدونکو مقاربتي ناروغیو او دا چې څرنګه د نه امیندوار کېدو له لارې د ناغوښتل شویو امیندواریو مخه ونیسي، په اړه یې زده کړه تر لاسه کوي. اصلي خبره دلته دا ده چې ځوانان باید دا ډول موضوعګانې وړاندې تر دې چې جنسي اړیکې ټینګې کړي، هغه زده او پرې پوه شي. موږ متخصص ډاکتران او نرسان لرو، کوم چې کولای شي له تاسې سره ستاسې د جنسي روغتیا په اړه مرسته وکړي. دا ډول مرسته وړیا او محرمه ده، په دې معنی چې نرس یا ډاکتر به تر هغه وخته پورې هېچا ته و نه وایي چې تاسې له هغوۍ سره څه خبرې کړي دي، تر هغه چې تاسې له خطر یا اذیت سره مخامخ شوي نه یاست او یا هم په خپلو کارونو سره مو کوم بل کس ته زیان نه وي رسولی. تاسې کولای شئ د جنسي روغتیا په کلینیکونو کې وړیا او محرمه مرسته او درملنه تر لاسه کړئ، چې د بریتانیا په ټولو سیمو کې دا ډول کلینیکونه موجود دي. همداشان، تاسې کولای شئ له خپل ډاکتر یا هم (د ماشومانو د ساتنې) LAC له ډاکتر یا نرس سره خبرې وکړئ. په دې اړه زیات معلومات کولای شئ په دغه وېب پاڼه کې ومومئ: www.nhs.uk

همداشان تاسې کولای شئ د ملي جنسي روغتیا له وړیا ټلیفوني کرښې – ۰۳۰۰۱۲۳۷۱۲۳ – سره اړیکه ونیسئ تر څو پوه شئ چې په خپله سیمه کې چیرې کولای شئ په دې اړه مشوره تر لاسه کړئ. د تنکیو ځوانانو په توګه، دا طبیعي خبره ده چې تاسې ښایې وغواړئ تر څو نارینه ملګرى یا ښځینه ملګرې ولرئ او له هغه یا هغې سره جنسي اړیکې ونیسئ. دا منو چې ټول بېلابېل خلک دي او دا چې څه وخت هغوۍ دا احساس مومي چې اوس کولای شي جنسي اړیکې ولري په دې اړه هم بېلابېل خویونه لري. مهمه خبره دا ده چې د جنسي اړیکو د لرلو لپاره باید خپل ځان تر فشار لاندې را نه ولو یا هم پر مقابل کس باندې فشار وارد نه کړو، دا کار باید تر هغه وخته پورې و نه کړو تر څو چې دواړه لوري خپل قانوني عمر پوره نه کړی او خپل رضایت یې ښودلی نه وي. دا هم سهي ده که چیرته تاسې نه غواړئ چې نارینه ملګرى یا ښځینه ملګرې ولرئ .





# رضایت (خوښي)

یو څوک باید په جنسي فعالیت کې د ګډون لپاره خپل رضایت وښیي. په بریتانیا کې د هر راز جنسي فعالیتونو په اړه د رضایت تر ټولو کوچنی عمر، ۱۶ کلنې ده. که چیرته کوم کس راضي نه وي او له هغه سره جنسي اړیکه ونیوله شی، هان که هغه ستاسې ملګری/ملګرې وي یا مو ورسره واده کړی وي، دا د قانون خلاف کار او یو جنایت دی.

رضایت یعني دا چې موږ پر یوه کار باندې هوکړه لرو؛ دا یوه ټاکنه ده. د بریتانیا د قانون له مخې، په لاندېنیو حالاتو کې رضایت سهي نه دی:

- که چیرته د هغه کس عمر تر ۱۳ کلونو ښکته وي
- که چیرته هغه کس ویده یا بې هوښه وي
- که چیرته پر هغه کس باندې فشار راوستل شوی وي یا هم احساس یې کړی وي چې منفي ځواب نشي ورکولای
- دا یوه کس رضایت نه ښیي که چیرته د هغه وړتیا د نشه یي توکو یا الکولو په مټ ځورمن شوي وي

په پورتنیو حالاتو کې له هر چا سره د جنسي فعالیت لرل د قانون خلاف کار دی او کېدای شي د جنسي تیري په تور زنداني ته واچول شي.

په دې اړه کولای شئ لا زیات معلومات په لاندنۍ پتو ومومئ:

www.disrespectnobody.co.uk
www.getit.org.uk

هلته ستاسو لپاره پر ډېرو ژبو باندې د ژباړې تنۍ هم شته.

که څه هم په بریتانیا کې د هر راز جنسي فعالیت په اړه د رضایت عمر ۱۶ کلنی ده، خو بیا هم زیاتره خلک صبر باسي تر څو یې عمر له دې هم پورته شي. د رضایت عمر په دواړو نارینه او ښځینه که هغه (مخالف جنس باز) یا هم جنس باز وي، یو شان دی.